د پښتو ادبیاتو څانګه

[غزني پوهنتون]

# ناول څه دی؟

لکچر: پوهنمل مصطفی صفا




# د ناول تعریف:


**په لغت کې:**

ناول د ایټالوي ژبې له ناوله «Novela» کلمې څه جوړه کلمه ده او د نوي، تازه او عجیبه معنا ورکوي.

**په اصلاح کې:**

ناول د کیسې یو نوی او پرمختللی شکل دی او هغې فرضي کیسې ته ویل کېږي چې په نثر کې بیان شوې وي او یوه یا څو داسې خیالي پېښې پکې ښودل شوې وي چې د رښتیاتوب ګومان پرې کېدای شي.

# د ناول ډولونه





په نړۍادبياتو کي ناول خورا زيات ډولونه لري. ځينې مهم ډولونه يې په دې ډول دي:

١: تاريخي ناول
٢: اجتماعي ناول
٣: سياسي ناول
٤: جنايي او پوليسي ناول
٥: فلسفي ناول
٦: ارواپوهنيز ناول
٧: ساينس فيکشن ناول
٨: کرکټرمحوره ناول
٩: فانتزي ناول...


# ۱- تاريخي ناول

تاريخي ناول هغه دی چې د تاريخي پېښو پر بنسټ ليکل کېږي او کرکټرونه يې هم ډېر کله څرګند تاريخي افراد وي. په تاريخي ناولونو کې تاريخي پېښې له تخيلي پېښو او صحنو سره غاړه غړۍ کېږي يا د تاريخي ناولونو په پنځونه کې له تاريخي پېښو سره تخيلي چلند مهم اړخ دی. لاندې درې ناولونه د تاريخي ناول په ژانر کې راځي.


**جګړه او سوله/ تولستوی**




**توره ماته شوه/ نسيم حجازي**





**ميرويس خان نيکه/ ذبير شفيقي**




# ۲- اجتماعي ناول

اجتماعي هغه دی چې د یوې یا بېلابېلو انساني ټولنو، ټولنپوهنیز مسایل په خپله لمن کې رانغاړي، لکه ځانګړي دودونه، رواجونه، طبقاتي توپیرونه، فرهنګي جوړښتونه او ټولنیزې ښېګڼې، بدګڼې او...


**مور/ ماکسیم ګورکي**




**د غوسې وږي/ شټاین بِک**





**د بنګ مسافري/ نورمحمد تره کی**




# ۳- سیاسي ناول

سیاسي ناول هغه دی چې په تولیز ډول له سیاست او سیاسي مسایلو سره اړیکه لري او مشخص سیاسي اشخاص او څېرې، په اصلي او سمبولیکه بڼه پکې د کرکټرونو رول لري. لکه لاندې ناولونه:


**د حیواناتو فارم/ جورج اورویل**




**ډاکټر ژیواگو/ بوریس پاسترناک**





**طالبه خدای که به ملا شې/ نصیب سیماب**




# ۴- جنايي او پوليسي ناول

په جنايي او پوليسي ډول کې هغه ناولونه راځي چې د جنايي او پوليسي پېښو په باب ليکل کېږي او د وژنو، غلاو، تښتونو او نورو جرايمو په باب کيسې کوي.


**او بيا هېڅوک نه وو/ اګاتا کرېستي**




**۳۹مه پوړۍ/ جان بوچان**





**۳۸بجې ۴۰دقيقې/ رحيم الله بشارت**




# ۵- فلسفي ناول

فلسفي ناول هغه دی چې یو ځانګړی فلسفي فکر، یا فلسفي نظریه یا نظریې د داستان په چوکاټ کې وړاندې کوي.


**د سوفي نړۍ/ جوستېین ګاردر**




**پردی/ البرټ کامو**





**کانګې/ ژان پل سارتر**




# ٦- ارواپوهنیز ناول

ارواپوهنیز یا رواني ناول هغه دی چې د افرادو د رواني، ذهني او عاطفي حالاتو انځورونې ته زیاته پاملرنه کوي او ډېر کله په ارواپوهنیزو نظریاتو ډېره لگوي.

کله چې نیچه وژړل/ اروین یالوم




د کارامازوف ورونه/ داستایوفسکي




د ورک وخت په لټه کې/ مارسل پروست





In Search of Lost Time


# ۷- ساینس فېکشن ناول

ساینس فېکش ناول هغه دی چې داستان یې د ساینسي اټکلونو پربنسټ ولاړ وي. یا هغه ناول دی چې د ناپېژندل شویو ساینسي پرمختیاو وړاندوینه او انځورونه کوي. په نړیوال ادب کې نامتو فرانسوی لیکوال «ژول وېرن» د ساینس فېکشن ناول بنسټګر بلل کېږي.

**شل زره فرسخه تر سمندر لاندې/ ژول وېرن**




**عبرت/ کالډوېل تارنبول**





**۴۵۱ فارنهایټ/ رې براډ بوري**




# ۸- کرکټر محوره ناول

د کرکټر ناول، یا کرکټرمحوره ناول هغه دی چې د داستان له پېښو څخه زیات د داستان د کرکټر د حالت او خاصیت بیان ته پکې پاملرنه کېږي. لاندې ناولونه کرکټرمحوره دي:


**ستړې هیلې/ چارلېز ډیکینز**




**مالون مري/ ساموئِل بِکِت**




**په کور یو لېونی/ وفا سمندر**



# ۹- فانتزي ناول

فانتزي یا وهم او خیال ناول، هغه دی چې ډېر کله جادو او منتر ته پکې ځای ورکول کېږي، یا داسې تخیلي پېښې پکې انځورېږي چې په واقعي ژوند کې نه موندل کېږي.

هاري پاټر / لیکواله: جي. کې. رولینګ

کوچینی شهزاداه/ انتوان اګزوپري

رنګه غوږونه/ نصیراحمد احمدي










# د ناول د جوړښت بنسټیز توکي




- کیسه
- پلاټ
- کرکټرایزېشن
- منظرکشي
- تلوسه
- ډیالوګ
- زمان او مکان

# له پاملرنې مو مننه !

